**د ملگرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی**

**د ویاند دفتر**
**کابل – افغانستان**

**تیلیفون:** ۰۰۳۹ ۰۸۳۱ ۲۴ ۶۱۲۱ – ۰۰۹۳ ۲۰ ۲۹۷ ۶۱۲۱
**بریښنالیک:** spokesperson-unama@un.org
**ویب پاڼه:** www.unama-afg.org

**رسنیز کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)**

آغلی کریستینا اوگز، د ملگرو ملتونو د جرم او مخدره توکو د دفتر مشره په افغانستان کی

علیم صدیق، د یوناما د ویاند د دفتر سرپرست

*کابل- د جولای د میاشتی ۲۸ نیټه کال ۲۰۰۸*

**یوناما:** زما نوم علیم صدیق د یوناما د ویاند د دفتر څخه یم. خوښ یاستو چی زموږ سره میلمه ده آغلی کریستینا اوګز د ملګرو ملتونو د جرم او مخدره توکو د دفتر مشره په افغانستان کی. هغوی به تاسو ته د مخدره توکو په وړاندی د مجادلی څخه د نورو کارونو په خوا کی معلومات درکړی. خو مخکی له هغی غواړم یو لنډ رپوټ تاسوته د ملګرو ملتونو د خوراک د نړیوال پروګرام په اړه وړاندی کړم.

## د هیواد په لویدیځ کی د نړیوال خوراکي پروګرام په کاروان برید

یوناما د نړیوال خوراکي پروګرام په کاروان وروستی برید په کلکه غندي. یو ځال بیا په یوه کاروان د برید له امله دبې وزله افغانانو خوراکي توکي غلا شول.د هغه چا لپاره چی د دي بریدونو تر شا دي موږ یو پیام لرو- شرم دی وي پر تاسو. دا راز حملی د افغانستان خلکو او د نړیوالی ټولنی سخاوتمندی ته یو سپکاوي دی. دا بریدونه د نه منو وړ دي او باید ورته د پای ټکی کینبودل شي. په دې هیواد کې د نړیوال خوراکي پروګرام د اړو کسانو دتغذیه کولو یو اوږد تاریخ پرودت دی.

په دې هیواد کې د نړیوال خوراکي پروګرام د اړو کسانو دتغذیه کولو یو اوږد تاریخ پرودت دی. دا کار حتی د باور وړ هم نه ښکاري چې د داسې سختې وچکالی او د خوراکي توکو د لوړ نرخو په وخت کې به د خوراکي توکو د بشري مرستو کاروان په دې ډول تر برید لاندې راشي. اجازه راکړئ د برید په هکله څه نور معلومات درکړم.

تیره پنجشنبه نا څرګندو ټوپکوالو د ملګرو ملتونود نړیوال خوراکي پروګرام د ۴۹ تجارتي لاری موټرونو په یوه کاروان چې د نوموړی دفتر خوراکي توکي یې د کندهار څخه هرات ته لیږدول برید وشو. دا برید د فراه ولایت د بالا بلوک په ولسوالی کې ترسره شوی، دوه لاری موټر یې وسوځول او ۸ نور موټرونه یې یو نا څرګند ځای ته یوړل.

د ۳۲۰ متریک ټنو څخه زیات خوراکي توکي چې د ۳۸۴۰۰ کسانو لپاره د یوې میاشت خواړه وه، لوټ کړل. د دې پیښې سربیره به نړیوال خوراکي پروګرام د کندهار څخه هرات ته د خوراکي توکو لږد ته دوام ورکړي.

اجازه راکړئ و وایم، د روان کال د جنوری نه د جون تر میاشتې پورې د نړیوال خوراکي پروګرام د نقلیه واسایطو په وړاندې ۱۲ وسله واله بریدونه ترسره شوي دي. ټول ټال ۴۶۶ ټنه خوراکي توکي دنړدې ۳۰۰،۰۰۰ امریکایي ډالرو په ارزښت لوټ شوي دي، او دې خوراکي توکو د ۴۶،۶۰۰ (۷،۷۶۷) کورنیو د زیانمنیدونکو کسانو د یوې میاشتې لپاره بسنه کوله. په ۲۰۰۷ کال کې، په هغو تجارتي لاری موټرونو یا هغو کارونو باندې چې د نړیوال خوراکي پروګرام خوراکي توکي یې لیږدول له ۳۰ څخه زیات بریدونه ترسره شوي دي.

په ټولیز ډول ۸۷۰ ټنه خوراکي توکي د ۷۳۰،۰۰۰ امریکایي ډالرو په ارزښت له منځه تللی دي. په څلورو پیښو د لاری موټرونو چلونکي او د افغان پولیسو د بدرګی غړي یا وژل شوي او یا هم ټپیان شوي دي.

## کریستینا اوګز، د ملګرو ملتونو د جرم او مخدره توکو د دفتر مشره په افغانستان کی

په تیرو کنفرانسو کی ما د تریاکو د کښت په اړه باندی خبري کړي دي. ما د دي په اړه هم خبري کړي دي چی د قانون د پلی کولو اداري او قضایی اداري دي ته اړ دي چی د مخدره توکو قاچاقبران ، د هغوی ډلي او فساد په نښه کړي. نن زه غواړم د مخدره توکو د ستونزي د یو بل اړخ په اړه خبری وکړم. هغه د کیمیاوی موادو قاچاق دننه افغانستان ته دي چی په غیرقانونی توګه د هیروینو په جوړولو کی ترینه ګټه اخیستل کیږی، زه د عامه پوهوی په اړه هم به درته معلومات درکړم او بیا په پای کی به تاسو ته د هغه تاریخی غونډي په اړه معلومات درکړم چی د افغانستان د مدافع وکیلانو د اتحادیی د جوړښت په اړه دي.
تاسو ډیری وخت آوري چی افغانستان د نړی د مخدره توکو د ټولو ستونزو یوازینی زیله ده. زه فکر کوم چی دا سمه نه ده. دا به سمه نه وی چی افغانستان د ټولی نړی د مخدره توکو د ستونزو لپاره پړ وګڼو. دا سمه ده چی دا هیواد د هیروینو خام مواد برابروی خو دا امکان نه لری چی هیروین بغیر له یو شمیر کیمیاوی موادو

ځخه تیار شی چی دا مواد په افغانستان کی نه جوړیږی او د افغانستان ځخه د بهر نه افغانستان ته را قاچاق کیږي.
په تیرو کلنو کی به افغانستان ترياک جوړول او بيا بی يی نورو هيوادونو ته استولو خو په دې وروستيو کلونو کې په هيروينو باندې د ترياکو په کيمياوی بدلولو کې د افغانستان په د ننه کې ستر زياتوالی راغلی دي. موږ دا شواهد هم لرو چی په ځينو سيمو کی د لوړکيفيت هيروين د بهرني مشاورينو په مرسته جوړيږی چی دوي د افغانستان ځخه د بهر نه راځي. تير کال کابو ۶۰ سلنه آپين په هيروينو بدل شوی، چي د دي مانا دا ده، چي د دغو کيمياوي توکو لوړو کچو ته چي د هيواد په د ننه کي د تصفيي د پروسو لپاره کارول کيږي، اړتيا وه.

زموږ اوسنی اټکل دا دی چي د ۱۳۰۰۰ ټنو په حدودو کي کيمياوی مواد ته (د ۱۵۰۰ ټنو اسيتک انهايدريد په ګډون) ته اړتيا ده .

دا کيمياوی مواد غير قانونی نه دي. دغه کيمياوی توکي په صنعتی هيوادونو کي په قانوني توګه توليديږي او بيا غير قانونی لارو استول کيږي. دا په بيلابيلو صنعتونو کی استفاده کيږی لکه د دواسازی او رنګ جوړونی کی. په ډيری مواردو کی دا مواد په قانوی بڼه صادر کيږی خو کله چی دوي هغه اصلی هيوادونو ته چی بايد د مواد ورته ورسيږی وروسته دهغه افغانستان ته قاچاق کيږي.

افغانستان واقعا دغو کيمياوي کومکي توکو/پريکرسرونو ته ضرورت نه لري. د ملګرو ملتونو د نشه يي توکو او جرمونو اداره يوه پروژه لري، چي موخه يي د هغو کيمياوي توکو د بهير په وړاندې مبارزه ده چي په افغانستان کي د هيروينو په ناقانونه جوړولو کي ور ځخه کار اخيستل کيږي. د دغې پروژې له لارې د مخدره توکو ضد پوليس، سرحدي پوليس او د ګمرکاتو مسوولين روزل کيږي او د افغانستان د سرحداتو په اوږدو کي د کنترول لپاره سمبال شوي دي. سربيره پر دې موږ نور ګرځنده ټيمونه هم روزو چي د پولو په اوږدو کي او د توليد په محلي سيمو کي عمليات وکړي.

د مخدره توکو په وړاندی پوليس خپلې هڅې لا پسې زياتوي چي د قاچاق شوو کيمياوي توکو محمولې قبضه کړي. تر ۲۰۰ ټنو زياتو کيمياوي کومکي مواد (پريکرسرونه) له ۲۰۰۶ را په دې خوا په افغانستان کي د چارواکو له خوا نيول شوي دي.

د ملګرو ملتونو د نشه يي توکو او جرمونو اداره همدارنګه هڅې کوي چي د پريکرسر د کنترول په برخه کي سيمه ييزه همکاری تطبيق کړي ځکه چي دا کيمياوی مواد د افغانستان په شاوخوا کی هيوادونو له خوا راځی. موږ خپل لاری چاری د هغوی سره شريک کوو او افغانانو ته روزنه ورکوو چی په څه ډول مواد ضبط کړي او څيړنې ترسره کړي. دا کار د دی لامل وګرځيد چی د قاچاق وضعيت ښه وپيژندل شی.

د ډيرو وختونو جوړې شوې قاچاقي لارې لا فعالي دي په خاص ډول په سهيل، سهيل لويديځ او په سهيل ختيځ کي چيری چی ډيری قاچاق ترسره کيږی. په داسي حال کي چي د دغو نيونو زياتره قضيې په ننګرهار کي واقع کيږي يعنی له پاکستان سره په سهيل ختيځې پولې باندې. د دغو کيمياوي توکو د سترو اندازو پوره شواهد شته چي له ايران سره په پوله باندې د لويديځ په لور تيريږي.په دواړو قضيو کي د تيريدنو ناقانونه ځايونه استعماليږي. که څه هم په سهيل ختيځه پوله باندې داسې شواهد شته چي له قانونی پوله اوښتنې ځخه په اسانی سره کار اخيستل کيږي چي د لاريو په واسطه سترې محمولې قاچاق شي.

کومې څيړنې چي د قانون د جاري کولو د ملي او نړيوالو نمايندګيو له خوا سرته رسيدلې دي دا راښايي چي دغه کيمياوي پريکرسرونه افغانستان ته له چين، د روسيي له فدراسيون، سهيلی کوريا، اروپا او نورو ځايو ځخه را رسيږي. د دغو هيوادونو ځخه محمولې له پاکستان ځخه د ترانزيت په توګه کار اخلي لکه ځرنګه چي په دې وروستيو وختونو کي د هغو ۱۴ ټنو اسيتک انهايدريد له نيوني ځخه معلومه شوه چي د کراچي په بندر کي د دغه کال په فبروري کي سرته ورسيده. دا له ۲۰۰۱ را په ديخوا لومړی نيونه وه.
ښکاره ده چي تاسو بغير له استخباراتی څيرنو ځخه دا کيمياوی مواد نشی ترلاسه کولای. په دغې ځانګړی قضيې کي نوموړی کيمياوي توکي له سهيلی کوريا ځخه په بيړی کي راوړل شوي وو، چي د کشتی په يو کانټينر کي ځای په ځای کړای شوي وه او د هغو فعاليتونو په پايله کي افشا شول چي د اوپريشن تارسيد د عملياتو تر نوم لاندې سرته ورسيدې او دا د ملګرو ملتونو د نشه يي توکو او جرمونو ادارې په مرسته يو نوښت و چي د افغانستان ګاونډي هيوادونه او همدارنګه د سيمې نور هيوادونه په کي شامل وو.

څو میاشتې مخکې په اپریل کې ایراني چارواکو همدارنګه یوه بله مهمه محموله کشف کړه چې د ۵ ټنو اسیتک انهایدرید محموله وه چې سرچینه یې په سهیلي کوریا کې وه او تګ لوری یې افغانستان وه ضبط کړه.

په کابل کې د مخدره توکو ضد پولیس له زیات برې څخه برخمنه وه (تر اوپریشن تارسید لاندې) چې یوه ستره نیونه یې د ۳ ټنو کیمیاوي پریکرسرونو نیونه وه، چې د پاکستان له پولې څخه قاچاق راوړل شوي و په احتمال سره د تورخم له لارې.

داسې ښکاری چې قاچاق بران د اسیتیک انهایدرایت د کموالی سره مخامخ وو چې دا د دی لامل وګرځید چې د کیمیاوی موادو بیه لوړه شي او دا د دی وجې وو چې موږ ډیر مواد ضبط کړ او په نړیواله کچه ضبط ډیر سو چې په پایله کې قاچاق یی لږ شو او دی نړیوال عملیاتو هم پری اغیزه درلودله.

غواړم دا برخه دی سره پای ته ورسوم چې اوس د پراخې نړیوالې ټولنې لپاره ننګونه دا ده چې سره را ټول شي او د معلومو قاچاق وړونکو په باره کې معلومات سره ګډ کړي چې د هغوي ډیر لا ښخوا په ګاونډیو هیوادونو کې او همدرانګه خپله په افغانستان کې ځای په ځای شوي دي.

د زنځیر د پای په اړه مو خبرې وکړی اوس غواړم چې څو کلمې د پیل په اړه ووایم.

دا باید د مخدره توکو سره د مبارزې په ترڅ کې په پام کې ولرو چې د تریاکو ټول اقتصاد د یو فرد له خوا د یوې کورنۍ او یا هم د یوې ټولنې له خوا پیل کیږي. یو دا انتخاب کوي چې د کوکنارو تخم په ځمکه وشیندي او پر یوه لاره باید د بزګرانو د پریکړې سره د عامه پوهاوي د کمپاینونو او معلوماتو د کچې د لوړولو د لارې کار وشي.

سږ کال د مخدره توکو سره د مبارزې د وزارت تر مشرتابه د لاندې د کښت وړاندې د معلوماتو کمپاین پیل شوی دی. دغه کمپاین کې د ټول افغانستان په کچه د کوکنارو د کښت۱۸ ستر ولایتونه شامل دي. شوراګانو، د رسینو د کمپاینونو او د ټولنې د نور فعالیتونو د لارې دغه کمپاین د کوکنارو پر بدیل کښت باندې زور راوړي د بلې خوا د دې سره د افرادو، کورنیو او ټولنو لپاره د مخدره توکو د کاروبار د ناوړه اغیزو په اړه د لازم پوهاوي کچه هم پورته وړي.

د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرمونو اداري د تیرو کمپاینونو د اغیزمنتیا په اړه څیړنه کړې ده او د سږ کال په کمپاین کې د هغو د نتیجو څخه کار اخلي چې د هر ولایت او سیمې لپاره د مخدره توکو ضد ځانګړې پیغامونه طرحه کړي. دغه څیړنې دا څرګندوي چې دا ډیره مهمه ده چې په هغو انګیزو پوه شو چې بزګران په دې کار بوختوي او یا هم د کوکنارو د کښت څخه ورځخه لاس اخلي، څو چې په اغیزمن ډول د عامه پوهاوي کمپاین په لاره واچول شي. ځینې کلیدي انګیزې چې موږ تشخیص کړې دي دا دي چې بزګران د دې څخه ډ ار لري چې که چیرې هغوي کوکنار وکري نو ماشومان به یې افیون وکاروي او یا هم دا چې د کلي او ټولنې په کچه به کړکیچ د کوکنارو د کښت په صورت کې رامنځته شي.

لکه چې موږ تر مخه وویل د افغانستان په کچه د مدافع وکیلانو د یوې تاریخي غونډې کار روان دی: دا د افغانستان د مدافعو وکیلانو د ټولنې عمومي غونډه ده چې په کابل کې روانه ده. دا د افغانستان په تاریخ کې دداسې ډول ټولنې لومړنۍ غونډه ده او دا په ریښتیا سره یوه تاریخي پیښه ده. دغه ډول ټولنې په ټوله نړۍ کې شته، که هغه اسلامي او یا هم غیر اسلامی قضایي سیستمونه دي، او دا د قانوني مسلک د استقلال لپاره یوه منل شوې لار ده.

د ځان څخه دفاع په دې هیواد کې یو قانوني حق دی، خو د کابل د باندې واقعیت څه بل ډول دی او هغه دا چې ټولې څیړنې او د محکمو طرزالعملونه، د محاکمو په ګډون د مدافع وکیل د ملاتړ او ساتنې پرته ترسره کیږي چې دا په ډیرو قضیو کې په کابل کې هم ده.
اوس ۵۸۰ مدافع وکیلان د ټول افغانستان په کچه دي چې د هر یو میلون وګړو لپاره ټول ۲۳ څارنوالان کیږي. که دا د فلپین سره پرتله شي نو هلته ۴۴۰۰۰ څارنولان (د ۸۰ میلیونو کسانو) او یا هم د یو ملیون وګړو لپاره ۵۵۰ مدافع څارنوالانو ته رسیږي چې دا د افغانستان په پرتله د مدافع وکیلانو او ښاریانو ۲۳ برابره زیات تناسب جوړوي.

د عادلانه قضاوت په لاره کې تير کال يو قوی قدم پورته شو کله چې د مدافع وکيلانو قانون تصويب شو. د دې خپلواکې ټولنې جوړيدنه يو بل ستره قدم دی چې قانون ته د رسيدني او عدالت د ټينګښت پر لور پورته شو چې د ټولو وګړو لپاره د هغوي د قومي، مذهبي، اقتصادي او ټولنيز حالت د پام کې نيولو پرته د قانوني استازيتوب لاره هواره شي.

د افغانستان د مدافعو وکيلانو ټولنه به د عدالت، د مسلکي وړتيا او د قانون د احترام لپاره لاره هواره کړي. دا به مدافع وکيلانو ته د قانوني جواز او ثبت لپاره اداري مسووليت ولري چې په دغه مسلک کې د شامليدو او د مدافع وکيلانو د تنظيم لپاره د قانون سره سم طرزالعمل رامنځ ته کړي.

د عامه با خبرتيا لوړول هم د مدافع وکيلانو د نوې ټولنې يوه برخه ده چې په دې هيواد کې خلک له خپلو څخه با خبرتيا نه لري او هغوي د قانون حاکميت غواړي او اړتيا ورته لري. عدالت په ټولنه کې بنسټيز شی دی او له وکيلانو او د مدافعی وکيلانو پرته منځ ته نه شي راتلای چې هغوي د پروسی په هر پړاو کې برخه اخلي څو ډاډ من شي چې د شکمنو يا تورنو کسانو حقونه تامين کيږي له تورنو کسانو او د جرمونو له قربانيانو څخه دفاع کيږي او همدارنګه قوانين په مناسب ډول تغير او تطبيق کيږي.

موږ ډير زيات وختونه د هغو کسانو په باب خبرې کوو چې د اوسپنيزو دروازو شاته نه دي پراته خو بايد هلته و اوسي او ما په ډيرو وختونو کې د هغوي په باره کې خبرې کړې دي او زه به دې کارته دوام ورکړم دا ځکه چې هغوي هغه کسان دی چې د فساد جرمونه يې کړې دي، او يا خو هغه کسان دي، چې د قاچاق وړونکو د شبکو تر شا ولاړ ماغزه او ګټه اخيستونکي دي. هغوي زورور کسان او هغه خلک دي چې زور ور دوستان لري چې هغوي کولای شي د خپلو ګرځنده تيلفونونو په واسطه يو تورن له توقيف څخه له محاکمې پرته را خلاص کړي، دا هغه څه دي چې زه يې تيلفوني عدالت بولم. دا د قانون حاکميت نه دی، دا د هغو کسانو د قانون حاکميت دی چې فاسد او زورور دي.

لاکن يو شمير نور خلک هم شته چې بې ګناه دی او کلونه کلونه په بديخانو کې پراته دی ځکه چې هغوي زور ور دوستانه او ملګري نه لري. اصلا بايد دغه بې ګناه او معصوم کسان له توقيف څخه ازاد شي او د ازاديدلو حق لري، خو يو مدافع وکيل ته اړتيا ده چې دغه حق تامين کړي. خو بيا هم دغه بې ګناه کسان او هغه کسان چې د خپل حبس موده يې تيره کړې ده، او بايد ازاد شي، نه دې ازاد شوی ځکه چې هغوي يو د راجع کيدلو قانون پوه نه درلود او همدارنګه هغوي ښايې نه پوهيدل چې د اساسي قانون سره سم هغو د دفاع کولو حق درلود.

زه فکر کوم چې د مدافع وکيلانو قانون او د افغانستان د مدافع وکيلانو خپلواکه ټولنه بايد دې کار ته بدلون ورکړي. زه هيله من يم چې دا په سمه لاره يو خورا مهم ګام دی. دا به وخت ونيسي. خو هر بدلون له واړه ګام څخه پيل کيږي، نو زه باور لرم او د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرمونو اداري د دغې پراختيا ملاتړ کړی دی او موږ به د دفاع له حق څخه ملاتړ کولو ته دوام ورکړو او مدافع وکيلانو د ټولنې د دغه حق له ضمانت کولو څخه ملاتړ ته.

## د پوښتنو او ځوابونو برخه:

**ايرنا:** افغانستانترياک توليدوي، د هيروينو لپاره خام مواد د ځينې نورو هيوادونو لکه د روسيې فدراسيون، چين، او کوريا هغه کيمياوي توکي توليدوي چې د هيروينو په توليد کې کارول کيږي. دغه کيمياوي توکي ځينو ځايونو ته ليږل کيږي او د هغو هيوادونو څخه چې دغه ډک کانتينرونه تيږي حتی د کنترول او تلاشی حق نلري نو بيا څنګه دغه کيمياوي توکي هيواد ته رسيږي؟

**د ملګرو ملتونو د نشه يي توکو او جرمونو اداره:** دا ممکنه نه ده چې دغه کيمياوي توکي بند شي ځکه چې د کارولو زيات موارد لري. د دې لپاره د کنترول يو نړيوال سيستم لګول شوي دي. که چيرې يو هيواد وغواړي دغه کيمياوي توکي صادر کړي، د کنترول نړيوال سيستم بايد د نوموړی هيواد په د ننه کې د کيمياوي توکو تر لاسه کوونکي مقامات وپيژني او هغوي ته په دې هکله خبر ورکړي، بيا هغوي کولای شي و وايې چې د رنګو پلانکی کمپنی دومره اندازې توکو ته ضرورت لري او يا دا چې د دې فابريکی لپاره دومره مقدار ډير

دی او یا دا چې د دې توکو لپاره دلته ضرورت نه لیدل کیږي، په دې توګه د صادرولو دا کار دلته پای ته رسیږي. ستونزه په دې کې ده چې کله دغه کیمیاوي توکي د هیواد پولو ته رانږدې شي نو بیا دا توکي ترې تم شي.

*د ملګرو ملتونو د نشه یي توکو او جرمونو د اداري یو بل کارکوونکی:* هو کرستینا سم وایي. ځینې توکي کنترول کیږي او نور بیا نه کنترول کیږي. ستونزه د دوم ځل عمل سره ده. کیمیاوي توکي په قانوني ډول په بیلا بیلو هیوادونو کې په څرګندو کمپنیو پلورل کیږي، بیا د دوم وار عمل ترسره کیږي او وروسته بیا دا کیمیاوي توکي په نا قانونه ډول افغانستان ته داخلیږي.

**جینز دیفینس:** زه غواړم پوه شم چې ستاسو د کنترول سیستم په څه ډول کار کوي آیا دا د صادرونکی او واردونکی هیوادونو د پولیس تر منځ همغږه کیږی؟

**یوناما:** زه وړاندیز کووم چې وروسته د کنفرانس څخه موږ تاسو په دې اړه کافي تفصیلات درکړو ولی چې دا یو تخنیکی او د جزیاتو لرونکی پوښتنه ده.

**انډیپینډینټ:** تاسو د نړیوالو کیمیا پوهانو په اړه یادونه وکړه چې هیواد ته د هیروینو د کیفیت د ښه کولو پخاطر راغلي، آیا کولای شئ وویاست دا کسان څو تنه دي، په کوم هیواد پورې تړلي، چیرته میشت او د دغو فابریکو موقعیت چیرته دی؟

**د ملګرو ملتونو د نشه یي توکو او جرمونو اداره:** تاسو باید دې کار ته د یوې سوداګری په توګه وګورئ، زه باید ستاسو د پوښتنې د ځواب ویلو څخه وړاندې یو څو ټکو ته اشاره وکړم چې زموږ په هیوادونو کې څه واقع او څه واقع کیږي. د بیلګې په ډول کله چیرې تاسو د لاتیني امریکې هیوادونو ته وګورئ نو هلته د امریکې څخه کارپوهان ورتلل. تاسو به هرومرو پوهیږي چې اروپا د اکستاس ستره تولید کوونکی دی او کله چې دا بشپړ شو نو دا کار د اروپا د تشکیل څخه وړاندې وه او یا هم د شرقي اروپا هیوادونه د اروپا د اتحادیې غړی نه وه. پدغه هیوادونو کې یو زیات شمیر کیمیا پوهان موجود و چې دندې یې نه درلودلې او هغوی د شرقی اروپا په ځینو هیوادونو کې د سلاکارانو په حیث وکارول او یا هم صادرل شول.

د هیواد په د ننه کې د لابراتورونو لپاره مهمې سیمې سرحدي سیمې دي. د ننګرهار ولایت شرق، د کندهار جنوب، د هلمند او نیمروز ولایتونو ډیرې مهمې سیمې دي. په دې اړه نورې سیمې هم موجودې دي خو دغه سیمې د خامو موادو او تریاکو له امله مهمې دي. کیمیا پوهان د هغو سیمو څخه راځي چې دغو سیمو ته نږدې دي او لابراتورونه په سرحدي سیمې کې موجود دي. دا کار یو تجارت دی او دا څرګنده ده چې د دې کار لپاره د کارپوهانو لټون کیږي او دا مهمه نه ده چې دغه کارپوهان له کومه ځایه راځي. خبره دا ده چې دغه کار په ډیره ښه توګه د هیواد د ننه څخه تنظیم کیږي، که چیرې کارپوهان موجود نه وی نو بیا د دې کار لپاره کارپوهان د باندې څخه راغوښتل کیږي.

**آزاد خبریال:** تاسو د بزګرانو د قانع کیدو، د کیمیاوي توکو د نیولو په هکله او همدرانګه ددغو عملیاتو تر شا د هغو مغزو په اړوند لکه څنګه چې باید محاکمه شوی وای خبرې وکړي، دا د سیاسی عزم د نشتوالای څرګندوی کوي او په دې وروستیو کې د یوه امریکایی لوړرتبه کارکوونکی له طرفه هم ثبت شوي دي، د سیاسي عزم نشتوالی د نړیوالي ټولنې او همدارنګه د افغانستان د حکومت په لوړو کچو کې موجود دي.

**د ملګرو ملتونو د نشه یي توکو او جرمونو اداره:** زه فکر کوم چې د هغو کسانو نیونه چې د دې صنعت تر شا موجود دي په دولتي سیستم کې د فساد د شتون له امله نه ترسره کیږي چې په دې اړه مې تر مخه هم معلومات وړاندې کړل، او ستاسو څخه هغه کسان چې ما پیژني په دې پوهیږي چې زه دا یوه جدی ستونزه بولم، خو دا پخپل ذات کې د ظرفیت او اهلیت او ځواکمنی پوښتنه ده چې باید یو څه ترسره شي. د ډیرو کلونو را په دې خوا افغانستان ښه روزل شوي پولیسي ځواک نه لري، هغوي اوس ډیر ورو قدمونو اخلي او په دې وختونو کې په کابل کې د کیمیاوي موادو نیونه یوه مثبته پرمختیا ده.

ما د پاریس په کنفرانس کې د افغانستان د حکومت د استازو خبرو ته غوږ ونیو، د اداري فساد په وړاندې د هغوي له خوا د قوي ژمنې څخه متاثره شوم. دا خبرې وویل شوی، اوس موږ انتظار باسو چې د دغو پریکړه

کوونکو اقداماتو پایلې وګورو، حداقل د دې ستونزې د پیژندو لپاره دا یو پیل دی، په دې هکله په آزاده توګه خبرې کیږي، نړیواله ټولنه حکومت په دې تورن نه بولی بکله حکومت په خپله وایي چې د اداري فساد ستونزه موجوده ده. موږ به انتظار وباسو چې کوم اقدامات ترسره کیږي.

**سبا تلویزیون:** زه غواړم د تریاکو د کښت په مقدار پوه شم، د مخدره توکو پر ضد د مبارزې وزارت په حواله ۱۸ ولایتونه به سږ کال د تریاکو څخه پاک اعلان شي، غواړم ستاسو نظر په دې هکله وپوښتم؟

**د ملګرو ملتونو د نشه یي توکو او جرمونو اداره:** موږ لا هم شمیرې تر لاسه کوو، موږ حساب نیولی، موږ به د اګست د میاشتې په پای کې وکولای شو ستاسو پوښتنو ته سم او کره ځواب درکړو.

**د کلید راډیو:** د مخدره توکو په قاچاق کې د یو شمیر لوړرتبه حکومتي چارواکو د ښکیلتیا په پام کې نیولو سره، آیا هغه اقدامات چې د دولت لخوا ترسره شوي د افغانستان د خلکو لپاره د منلو وړ دي؟

**د ملګرو ملتونو د نشه یي توکو او جرمونو اداره:** زه فکر کوم که چیرې تاسو په برخه اخیستلو تورن یاست نو باید د دې کار د څیړنې لپاره سم طرزالعملونه موجود وي. زه فکر نه کوم چې دا طرزالعملونه دې داسې تعقیب شوي وي لکه څنګه چې نن تعقیبیږي. زه غواړم ووایم چې دا د یوې ټولنې لپاره له خطر څخه ډک ډیر کار دی که چیرې خلک باور ولري چې هغه خلک چې باید د دوي له ګټو څخه دفاع وکړي، هغه په فساد کې ککړ خلک دي. که چیرې دا خبره ریښتیا هم نه وي نو بیا هم دا ډیر خطرناک کار دی ځکه چې دا ددې ښکارندوی کوي چې په حکومت باندې باور نشته. د یوه حکومت لپاره به ښه کار دا وي چې دا ادعاګانې وڅیړي.

**د افغان غږ نمایندګی:** ویل کیږي چې د تریاکو زیاتره برخه د طالبانو تر کنترول لاندې ولایتونو کې کرل کیږي او دا هم ویل کیږي چې طالبان د تریاکو تولید د خپل اقتصاد د تمویل لپاره کاروي. زه غواړم پوه شم چې آیا طالبان بزګر د تریاکو کرلو ته هڅوي او که نه؟

**د ملګرو ملتونو د نشه یي توکو او جرمونو اداره:** د یاغیانو نو ښکیلتیا د یو ولایت نه تر بل ولایته پورې او همدارنګه هغه ولایتونه چې نا ارام دي توپیر لري. پدې وروستیو کې زه په ننګرهار کې وم او ما ته وویل شول چې یاغیان تریاک اخلي او په تریاکو د مالیې د لګولو پر ځای بیا هغه په لوړ نرخ پلوري. په هلمند کې بیا یاغیان په بزګرانو د عشر په نوم د محصول په ډول پیسې اخلي. زه فکر کوم چې د نشه یي توکو د سوداګرو او یاغیانو تر منځ دلته تر ټولو مهمه اړیکه یوه فرصت غوښتونکي ډوله اړیکه ده چې غواړي د هیواد یوه برخه د قانوني حکومت له ولکې څخه دباندې وساتي. نو په دې ډول هغوي د کوکنارو کرلو لپاره یو مساعد چاپیریال رامنځ ته کوي.

**ویاند:** تاسو ټولو څخه ډیره مننه.

---